# مسیر

ورځپانه

نوې لید، نوې مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۸مه | د ۲۰۲۱ د اگسټ ۹مه | ۷۵۹مه گڼه


# د ولایتونو پرله پسې سقوط، ورانی او اندېښنې؛

## وسله وال طالبان د سرپل، تخار او کندز ولایتونو د مرکزونو د نیولو ادعا کوي



٣


په ښارونو کې د خلکو پر ضد جگړه — ۲ مخ

نړیوالې رسنۍ؛ په امریکا کې بایدد کرونا ویروس دې سرچینې په اړه پلټنې وشي — ۲ مخ

در حاکمیت طالبان هنر و فرهنگ افسانه می‌شود؟ — ۳ مخ


## چارواکي: په پکتیا کې د سړک غاړې ماین چاودنې ۱۲ ملکیان وژلي

د پکتیا د پولیسو ویاند وایي، چې د دغه ولایت په سیدکرم ولسوالۍ کې د سړک غاړې ماین چاودنې د یوې کورنۍ ۱۲ غړي وژلي دي. د امنیه قوماندانۍ ویاند حیات الله نظامي احمدزي ویلي چې د ماین دغه چاودنه د یادې ولسوالۍ د چینو په سیمه کې پر یوه ملکي موټر شوې ده.

نوموړي زیاته کړې، چې په دې پېښه کې د ښځو او ماشومانو په گډون د یوې کورنۍ دوولس غړي وژل شوي او دوه نور ټپیان دي، خو د ښځو او ماشومانو کره شمېر یې نه دی مشخص کړی.

د یادې کورنۍ یو غړی نورجان وایي، چې د کورنۍ غړي یې د جگړو له وېرې له کور څخه په خپل موټر کې گردېز ته پر لارې وو چې د سړک غاړې په ماین ور برابر شوي دي. نورجان وایي چې په یاده پېښه کې یې مور او پلار، دوه یې ورونه، دوې یې وربنداري او پاتې نور یې د کورنۍ نور غړي وو.

که څه هم تر اوسه د دې چاودنې مسوولیت چا پر غاړه نه دی اخیستی، خو د پکتیا د پولیسو ویاند حیات الله نظامي احمدزي یې پړه پر طالبانو اچولې ده. هغه ویلي چې چاودنه د طالبانو د کنټرول لاندې سیمه کې شوې، خو طالبانو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي.

## یونیسف: د جگړو او وچکالۍ له کبله تر دریو میلیونو افغان ماشومان پر خوارځواکۍ اخته شوي



۲ مخ


کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ


0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com


# کاروبار

۴ مخ

## فولکس واگن

فولکس واگن په ۱۵۳ هیوادونو کې څانگې لري، ټول ۳۰۰ زره کارکوونکي لري او په کال کې د ۷،٦ میلیونو موټرونو په پلور سره تر اوسه په نړۍ کې ریکارډ لري، دوی غواړي چې دغه ریکارډ یې لسو میلیونو ته ورسېږي.



## کرنې ریاست: په لغمان کې د اوبو د دوو سربندونو او کانالونو رغنیزې چارې پیل شوې



د لغمان د کرنې ریاست چارواکي وایي، چې په افغانستان کې د کډوالو د نړیوالې ادارې او د کډوالو فرعي سندیزې حوزې په همکارۍ په دغه ولایت کې د اوبولگولو د دوو سربندونو او کانالونو رغنیزې چارې پیل کړې دي.

د لغمان د کرنې رییس محمد جمیل خوشال وایي، چې د دغو سربندونو او کانالونو د جوړولو ټولیز لگښت ۳۷۰ زره امریکایي ډالرو ته رسېږي، چې په رغولو سره یې د گڼ شمېر بزگرانو د کروندو د اوبو ستونزې به هوارې او د اوبو د ضایعاتو مخه به ورسره ونیول شي.

د نوموړي په خبره، له دغو پروژو څخه سلگونه نارینه او ښځینه کروندگر او مالداران برخمن کېږي او د یاد ولایت د کرنیز سکټور د پیاوړتیا لامل کېږي. دغه راز په ورته وخت کې په لغمان کې په افغانستان کې د کډوالو د نړیوالې ادارې او د کډوالو فرعي سندیزې حوزې په همکارۍ د سبو راټولولو دوه مرکزونه هم گټې اخیستنې ته وسپارل شول.

## وزارت صحت عامه: فرانسه ۱۴۴ هزار دوز واکسین کرونا به افغانستان کمک کرد



وزارت صحت عامه کشور اعلام کرده است که محموله واکسین کرونا که از سوی فرانسه کمک شده است، به کابل رسید. محموله صحی حاوی واکسین استرازنکا که از سوی فرانسه به افغانستان کمک شده است دیروز از سوی مسوولان سفارت فرانسه در کابل به وزارت صحت عامه تسلیم داده شده است. این محموله حاوی ۱۴۴ هزار دوز واکسین کرونا است.

شارژدافیر سفارت فرانسه در مراسم تسلیم دهی این محموله به افغانستان گفت که کشورش در امر مبارزه با ویروس کرونا همکاری های شان را با حکومت و مردم افغانستان ادامه می دهند.

طبق اعلام وزارت صحت عامه، این واکسین در نخست به افرادی تطبیق خواهد شد که دوز اول واکسین استرازنکا را دریافت کرده‌اند.

به اساس آمار این وزارت در حال حاضر ۱.۸ میلیون تن در افغانستان واکسین کرونا دریافت کرده‌اند که این رقم ۳ تا ۵ درصد جمعیت افغانستان را تشکیل می‌دهد.

وزارت صحت عامه گفته است با اضافه شدن ۱۴۴ هزار دوز واکسین کمک شده از سوی فرانسه این وزارت ۵.۲ میلیون دوز واکسین کرونا در اختیار دارد. کشورهای امریکا، هند، چین، سویدن و نیز ائتلاف جهانی واکسین، تاکنون به افغانستان واکسین کرونا کمک کرده‌اند. دولت نیز وجهی را برای تهیه واکسین کرونا اختصاص داده است.

## سرلیکنه

### په ښارونو کې د خلکو پر ضد جګړه

د طالبانو د نیمروز او جوزجان ولایتونو د مرکزونو له نیولو وروسته د سرپل ولایت د نیولو ادعا هم وکړه. دغه راز د کندوز ښار ډېرې برخې یې هم ونیولې او په تالقانو کې یې هم پرمختګ کړی. حکومتي ځواکونه بیا وایي چې سرپل یې بېرته نیولی، په کندوز کې یې عملیات پیل کړي او په تخار کې یې د طالبانو د پرمختګ مخه ډپ کړې ده. له دې سره حکومتي چارواکي وایي، په هرات او لښکرګاه کې یې هم طالبان په شا تمبولي دي.
د دواړو اړخونو ادعاوې یو لوری، خو څه چې روښانه دي، هغه دا چې څو ښارونه یا د ښارونو لویې برخې لاس په لاس شوې دي. دواړه وایي چې مقابل لور ته یې مرګ ژوبله اړولې، خو تر ګردو ستر زیان خلکو ته اوښتی دی. زرګونه خلک له خپلو کورونو بې ځایه شوي، مرګ ژوبله ور اوښتې، دوکانونه، مارکېټونه او کارځایونه یا نړېدلي او یا هم سوځېدلي دي. په ښارونو کې کوڅه پر کوڅه جګړه او له هوا بمباری تر ګردو زیات ملکي وګړو ته زیانونه اړوي، نو څومره چې جګړې اوږدېږي، سختېږي او په ښارونو کې دوام کوي، په همغه کچه ملکي وګړي زیانمنېږي. دا ستونزه هغه وخت لا زیاته شي چې کله ښارونه لاس په لاس شي او چې څو ځله دا لوبه تکرار شي، نو بیا خو جګړه په واقعیت کې د خلکو پر خلاف شي.
دواړه لوري لا هم پر جګړه ټینګار کوي او د سولې په برخه کې د هېڅ پرمختګ او بدلون څرک نشته. دواړه لوري پوهېږي چې جګړه ستونزه نه حل کوي، لومړی خو په دې جګړه کې بریا نشته او که بریا هم وي، پایله یې داسې ده چې دوی ته به زیان اړوي. له بده مرغه له همدې پوهې سره سره په جګړه ټینګار کوي او هڅه کوي چې د زور له لارې حالات بدل کړي. د زور له لارې د یو بل ماتول او یا هم په زور او د یو بل په محوه کولو واک ته رسېدل او بیا یې دوام تکرار شوې ناکامه تجربه ده. اوس هم که طالبان فکر کوي چې په جګړه به حکومت ونیسي، لومړی خو دا چاره ناشونې ښکاري، خو که دا کار وکړي، بیا هم طالبان له سختو ستونزو سره مخ کېږي، ځکه د دوی د خپلو متحدینو په ګډون نړی بیا بیا دا ویلي چې دوی به هغه حکومت په رسمیت ونه پېژني چې په زور راغلی وي او ګډ کار به ورسره ونه کړي. که حکومت هم فکر کوي چې طالبان به په زور مات کړي، دا هم په شلو کلونو کې ونه شول او اوس هم نه کېږي او نه یې ورسره خلک او نړی منې. له همدې امله د زور کارول، دواړو اړخونو ته زیات تاوان لري.
په ښارونو کې جګړه، په زور د ښارونو نیول، په ښارونو کې مقاومت او بمباری په هېڅ ډول د توجیه وړ نه دي. پکار ده چې دا ناوړه جګړه نوره ودرول شي، دواړه اړخونه باید له ضد تېر شي، خبرې پیل کړي او ژر تر ژره پر یو انتقالي حکومت توافق وکړي او دایمې سولې ته لاره هواره کړي.

# نړیوالې رسنۍ؛ په امریکا کې باید د کرونا ویروس دې سرچینې په اړه پلټنې وشي

لیکواله: غوټۍ؛ د چین میډیا ګروپ خبریاله

د امریکا د ختیځې حوزې پر وخت د اګست د ۸مې نېټې د سهار تر ۵ بجو او ۲۰ دقیقو، د امریکا د جانس هوپکینس پوهنتون د شمېرنې له مخې، په دغه هېواد کې د کرونا د ثبت شویو پېښو شمېر له ۳۵ میلیونو او ۷۳۰ زرو کسانو اوښتی او د کرونا وبا له امله د مړه شویو کسانو شمېر له ۶۱۶ زرو څخه اوښتی دی. په تېرو ۲۴ ساعتونو کې په دغه هېواد کې د کرونا ۱۸۹۴۵۴ پېښې تازه ثبتې شوې او ۸۹۴ تنه مړه شوي. ویل کېږي چې په امریکا کې کرونا وبا د نورو هېوادونو په پرتله لا هم سخته ده. د امریکا حکومت په خپل هېواد کې د کرونا وبا د وقایې او کنټرول لپاره ښه کار نه کوي، خو د خپلې ناکامۍ د پټولو لپاره د چین د بدنامولو په هڅه کې دی.
رښتیا دا ده چې له اوږدې مودې راهیسې د امریکا په اړوندو ازموینځایونو کې د کرونا ویروس د ترکیبولو او ترمیمولو په باب خطرناکې ازموینې تر سره شوې دي. د امریکا د شمالي کارولینا پوهنتون د چورچهیل فرعي څانګې پروفیسور رالف باریک د کرونا ویروس د څېړنې په برخه کې لوړ نفوذ لري. نوموړي په ۲۰۰۸ کال کې د امریکا د علمي اکاډمۍ په مجله کې د یوه تېزس په خپرولو سره د SARS په شان د یو ډول کرونا ویروس د ډیزاینولو، ترکیبولو او فعالولو طریقه یاده کړه او په دغه تېزس کې یې لیکلي، چې دغه مصنوعي ویروس نه یوازې د مږکانو د ناروغۍ سبب ګرځېدلی شي، بلکې د انسانانو پیوسونو ته هم زیان رسولی شي. د پاملرنې وړ ځای دا دی، چې پروفیسور رالف باریک او د فورټ ډیټریک ازموینځای ځینې کارکوونکي په ګډه د یادې ازموینې د امتیازي حق غوښتونکو په نوملړ کې شامل شوي دي. پردې سربېره، پروفیسور رالف باریک په ۲۰۰۶ کال کې په یوه لیکنه کې لیکلي، چې د جین (gene) ترمیمولو او د بیولوژیو د ترکیبولو ټکنالوژۍ د بیولوژیکو وسلو په جوړولو کې کارول کېږي. دغه راز د پروفیسور رالف باریک د بیولوژیکي ازموینځای د امنیت حالت هم د اندېښنې وړ دی.
د امریکا د پروپوبلیکا ویبپاڼې د خبر له مخې، د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې د ۲۰۲۰ کال د جون تر لومړۍ نېټې پورې د شمالي کارولینا پوهنتون د چورچهیل فرعي څانګې د امریکا د روغتیا اکاډمۍ ته د ترانسجین (transgene) بیولوژیک امنیت ۲۸ پېښې ثبتې او وړاندې کړې دي، چې په دې جمله کې ۶ پېښې له کرونا ویروس سره نېږدې اړیکه لري.
په عین وخت کې د ډېرو هېوادونو خبري رسنیو د امریکا پر بیولوژیکو ازموینځایونو شکونه کړي دي. ځکه چې امریکا له ازموینځایونو څخه د کرونا ویروس د خپرېدو په اړه د نظرونو د پورته کولو په وخت کې د فورټ ډیټریک بیولوژیک ازموینځای بند کړ. دغه راز په ۲۰۱۹ کال کې په امریکا کې د کرونا شکمنې پېښې رامنځته شوې، خو امریکا د دې په باره کې هیڅ تشریحات نه دي ورکړي.
څو ورځې مخکې د کوریا جمهوریت ټایمز ورځپاڼې او د جاپان ټوډې ورځپاڼې په جلا جلا توګه د مقالو په خپرولو سره پر امریکا نیوکې وکړې، چې دغه هېواد د کرونا ویروس د سرچینې د پیدا کولو کار ته سیاسي رنګ ورکوي. په دغو مقالو کې لیکل شوي، چې امکان شته د ۲۰۱۹ کال په ډسمبر کې کرونا وبا په امریکا کې خپره شوې وي. که په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس د سرچینې د پیدا کولو کارونه پیل شي، د پلټنو لومړی ځای به یې امریکا وي. دا پلټنې به له هغه ځایه پیلېږي. د روسیې د ختیځو رسنیو ویبپاڼې عمومي مدیر اندرې کاراچینسکي څو ورځې وړاندې وویل، چې موږ په دې نه پوهېږو، چې ولې کوم هېواد د کرونا وبا د سختېدو په حال کې پر بل هېواد باندې تور لګوي. امریکا د سیاسي موخې په پار پر چین باندې تور لګوي او غواړي له دې لارې د چین د پرمختګ مخه ونیسي. د چین حکومت د کرونا وبا د کنټرول په برخه کې ډېره قوي مبارزه وکړه او کوي یې. خو ډېر هېوادونه، په تېره بیا امریکا په خپلو ازموینځایونو کې رامنځته شوې پېښې نه په ډاګه کوي.
ډېرو نړیوالو خبري رسنیو او شخصیتونو دې ته اشاره کړې، چې د کرونا ویروس د سرچینې پیدا کولو نړیوال کارونه دې لومړی په امریکا کې پیل شي. امریکا باید د نړیوالو علمي پلټنو لپاره د فورټ ډیټریک ازموینځای په ګډون د نړۍ په بېلابېلو ځایونو کې ازموینځایونه خلاص کړي او په خپل هېواد کې د کرونا ویروس د سرچینې پیدا کولو لپاره د روغتیا نړیوال سازمان او نورو نړیوالو سازمانونو کارپوهانو ته بلنې ورکړي.
د کرونا وبا پر وړاندې به هېڅ هیواد خوندي نه وي. نړیوالې همکارۍ او یووالی د دغې وبا پر ضد مبارزه کې د بریالیتوب او د بشریت د روغتیا د ساتنې یوازینۍ سمه لار ده.

# یونیسف: د جګړو او وچکالۍ له کبله تر دریو میلیونو افغان ماشومان پر خوارځواکۍ اخته شوي

په افغانستان کې د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه صندوق یا یونیسف د جګړو شدت او وچکالۍ ته په پام سره روان وضعیت ویجاړوونکی بللی او وایي چې په خوارځواکۍ د اخته ماشومانو شمېر یې تر دریو میلیونو اړولی دی.
د یونیسف د ساحوي عملیاتي چارو لوی مشر مصطفی بن مسعود وایي، چې د دغو پېښو له کبله تر ډېره ماشومان اغېزمن شوي دي. مسعود زیاتوي: «دا یو ویجاړوونکی خبر دی چې له بده مرغه حیرانوونکی نه دی. په وروستیو اونیو کې د جګړو له شدت سره جوخت وچکالۍ هم دا کال لا وژونکي او ویجاړوونکي پړاو ته داخل کړ. ګڼ ماشومان مجبوره شوي چې له خپلو مېنو بې‌ځایه شي او په وېره کې وي. زیات وخت یې په تغذیه کې ناغېړي کېږي. دوی حتی نه پوهېږي چې بیا به خواړه له کومه کوي.» بن مسعود وایي، د دې بحران پر وړاندې د مبارزې لپاره یونیسف په خپلو ۱۱ دفترونو کې د خپلو همکارو ادارو په مرسته د خوړو او نورو اړتیا وړ وسایلو یا موادو په رسولو کې مرسته کوي. یونېسف وایي، دوی په ګڼو ولایتونو کې د (-RUTF- Ready-to Use Therapeutic Food) په نوم چمتو شوي درملوونکي خواړه هم وېشي. د یونیسف د ساحوي عملیاتي چارو لوی مشر مصطفی بن مسعود اټکل کړی، چې د روان میلادي کال تر پایه پورې به په هرو دوو ماشومانو کې یو تن چې عمر یې تر پنځو کلونو کم وي، د لږو خوړو او خوارځواکۍ له کبله سمه ذهني وده ونه لري، د ناروغیو پر وړاندې به زیانګالي وي، په ښوونځي کې به شا ته پاتې وي او د لوبو لپاره به انرژي ونه لري. بلخوا عامې روغتیا وزارت وایي، د افغانستان نیمايي نفوس د بې‌وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي چې د وروستیو جګړو او وچکالۍ له کبله دغه ستونزه نوره هم پراخه شوې ده. د دغه وزارت د تغذیې د چارو رییسه مرسل مناتي وایي، دغو ستونزو د ماشومانو ژوند تریخ کړی دی. مناتي زیاتوي: «په شدیده خوارځواکۍ تر پنځو کلونو د کم عمره اخته ماشومانو شمېر ۸ لکه او ۹۵ زره دی، په متوسطې خوارځواکۍ د اخته ماشومانو شمېر ۲ ملیونو او ۲ لکو ته رسېږي چې په ټوله کې په هېواد کې درې میلیونه او دوه لکه ماشومان په خوارځواکۍ اخته دي. دغه‌راز شاوخوا ۷ لکه او ۲۰ زره امیندوارې یا هغه مېرمنې چې کوچنیانو ته شیدې ورکوي، په خوارځواکۍ اخته دي.»



# بایډن: د طالبانو د بریدونو او تاوتریخوالي پر وړاندې د مشرتابه او ارادې وخت رارسېدلی

په کابل کې د امریکا سفارت په یوه ټویټ کې ویلي، چې د امریکا ولسمشر جو بایډن ویلي چې افغان حکومت او افغان امنیتي ځواکونه د بریا لپاره کافي روزنه، تجهیزات او پرسونل لري او اوس د طالبانو د بریدونو او تاوتریخوالي پر وړاندې د مشرتابه او ارادې وخت دی. ولسمشر بایډن په داسې حال کې پر افغان حکومت او افغان امنیتي ځواکونو حساب کوي، چې د رسنیو د راپورونو له مخې، نوموړي د بي-۵۲ او د سپکټر په نوم په وسلو سمبالو الوتکو ته امر کړی، چې په افغانستان کې طالبان په نښه کړي.
په ورته مهال د افغانستان دفاع وزارت وایي، د امریکا بي-۵۲ الوتکو د جوزجان ولایت په مرکز شبرغان کې پر طالبانو بمباري کړې ده. د یاد وزارت مرستیال ویاند فواد امان پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي چې په دغه برید کې طالبانو ته درنه مرګ ژوبله اوښتې ده.
د فواد امان په وینا، د امریکایي الوتکې په بمباری کې د طالبانو د ډېر شمېر وسلو او مهماتو ترڅنګ د هغو تر ۱۰۰ ډېرې نقلیه وسیلې هم ویجاړې شوې دي. د ټایمز او مېل ورځپاڼو د راپور پر اساس، د لښکرګاه، کندهار او هرات په شاوخوا کې هم د طالبانو مورچې بمبار شوې دي. طالبانو بیا د امریکایي الوتکو بمباري غندلې او دغه کار یې د دوحې له تړون ښکاره سرغړونه بللې ده.
په ورته مهال په کابل کې د امریکا سفارت، د طالبانو هغه اقدامات چې په زوره د خپل حاکمیت د تپلو لپاره یې کوي، د منلو وړ نه دي او د دوحې د سولې له پروسې سره په ټکر کې دي چې هدف یې د مذاکرو له لارې پر سیاسي جوړجاړي سلا کېدل دي.
طالبانو بیا د دغو ښارونو له نیولو سره جوخت په یوه خبرپاڼه کې دولتي کارکوونکو ته ډاډ ورکړی چې له نیول شویو ښارونو څخه د تېښتې هڅه ونه‌کړي، بلکې په عادي ډول خپل ژوند ته دوام ورکړي.

# در حاکمیت طالبان هنر و فرهنگ افسانه می‌شود؟

تهمینه تومیریس؛ بی‌بی‌سی- فارسی

در این مطلب نویسنده با مروری بر آسیب‌هایی که آثار باستانی و فرهنگی افغانستان در دوره حاکمیت طالبان در اواخر دهه ۱۹۹۰ دید، از نگرانی‌های اهل هنر و فرهنگ افغانستان در صورت بازگشت حاکمیت طالبان نوشته است.

هنر امروزه در افغانستان بیشتر از هر دوره دیگری با تهدید سانسور، ممنوعیت، محدودیت و حذف قرار دارد. جنگ و اقتصاد ضعیف که سد راه پیشرفت فعالیت‌های هنری اند صرفا یکی از عوامل بازدارنده رونق و تولیدات هنری در افغانستان بوده‌اند، اما تحجر و افراطیت طالبانی فراتر از جنگ هنر را به ورطه نابودی کشانیده و هنرمندان افغانستان بیم آن را دارند که بار دیگر سایه شوم بنیادگرایی طالبانیزم هنر و فرهنگ را در دایره تنگ و تاریک شریعت طالبانی قرار دهد. بیم ما از نابودی فرهنگ و هنر از گذشته تاریک و سیاه حاکمیت طالبان نشات می‌گیرد؛ سخن از گروهی است که کمر به نابودی پیشینه فرهنگی و هنری افغانستان بسته است.

آنچه به این هراس می‌افزاید عدم توجه جدی دولت به هنر و میراث‌های باستانی-فرهنگی افغانستان است. مسئله این است که هنوز آثار نقاشی نگارستان ملی به صورت کامل دیجیتال نشده و از ۲۰۱۴ بدین‌سو در یک انبار نگهداری می‌شوند. از طرفی مشخص نیست تا چه اندازه شرایط حفظ و نگهداری این آثار کنترل شده و اصولی است، زیرا اگر برخی آثار بر اثر آسیب‌های احتمالی از بین بروند، آیا سندی از اصل اثر در دست خواهیم داشت یا خیر؟ نکته حیاتی دیگر برای حفظ آثار هنری و باستانی با شدت گرفتن جنگ در اطراف کابل، ایجاد امکانات امنیتی و محافظتی برای آثار موزیم و نگارستان ملی، امنیت کارکنان موزیم و ایجاد مکانی امن برای نگهداری آثارموزیم و نگارستان ملی از آسیب‌های جنگ است، که مشخصاً دولت مؤظف به گرفتن این تدابیر است.

هنر و میراث‌های فرهنگی-باستانی افغانستان بسیار حائز اهمیت است، زیرا صرفاً شامل هنر بومی افغانستان نمی‌شود و صحبت از هنری است بس متنوع که هزاران سال قدمت تاریخی دارد. از آنجا که افغانستان چهار راه جهان باستان بوده و از چهار هزار سال پیش صادر کننده لاجورد، طلا و قلع به هندوستان، بین النهرین و مدیترانه بوده فرهنگ‌ها و شیوه های هنری گوناگونی را به خود دیده است. نه تنها هنر یونان و روم، مصر و چین از دل تمدن باختر که بلخ پایتخت آن بوده عبور می‌کرده، حتی داشته‌های فرهنگی-هنری و منابع طبیعی افغانستان در غرب نیز شهرت بسزایی داشته است. به طور نمونه رنگ آبی گرفته شده از سنگ لاجورد افغانستان در قرن پنج تا هفت میلادی در شمایل نگاری‌های عبادی و مذهبی مسیحیت مورد استفاده قرار می‌گرفت که جزء گران‌ترین رنگ‌ها بعد از رنگ طلایی قرار داشت. یا نقاشی های دیواری در مغاره‌های بامیان که تا کنون قدیمی ترین نمونه نقاشی رنگ روغن کشف شده در جهان است.

طبق دو پروتکل الحاقی سال ۱۹۷۷ به کنوانسیون‌های ژنو ۱۹۴۹، که شامل ممنوعیت اعمال مشخصی در منازعات بین المللی و ملی (داخلی) است، تخریب اموال و اماکن فرهنگی و مذهبی را جنایت جنگی بر شمرده و انجام آن را نه صرفاً جنایت جنگی، بلکه «نقض جدی» قلمداد می‌کند؛ با این وجود شواهد بی‌شماری در دست است که طالبان بارها در افغانستان مرتکب جنایت جنگی شده‌اند. برای نمونه، از سال‌های نخست دهه ۹۰ میلادی تا ۲۰۰۱ از ۱۰۰ هزار آثار باستانی موزیم ملی افغانستان حدود ۷۰ درصد آن توسط طالبان به غارت رفته یا نابوده شده است، و طبق آمار مؤثق سه هزار اثر باستانی موزیم ملی را مطلقاً نابود کرده‌اند.

طالبان در زمان حاکمیت‌شان، چند هفته مکرراً وارد موزیم ملی شده‌اند و کلیه آثار باستانی مجسمه که شامل پیکر انسان یا حیوانات بود، را با چکش و سلاح تکه تکه کردند، گویی ابراهیم وارد بتخانه شده است، اما این کجا و آن کجا. تخریب مجسمه‌های غول پیکر بودا در سال ۲۰۰۱ از یک سو و همزمان با آن فرمان نابودی کلیه آثار هنری و باستانی پیش از اسلام در سایر ولایات از طرف دیگر تهدید جدی برای آینده هنر و فرهنگ بود. مورخان هنر در این دوره صرفاً بابت از دست دادن مجسمه‌های بودا در شوک نبودند، بلکه بمب‌گذاری در محل مجسمه‌ها باعث نابودی نقاشی‌های دیواری داخل مغاره‌ها شد، نقاشی‌هایی که تاکنون به عنوان قدیمی ترین نمونه فریسکو (نقاشی دیواری) رنگ روغن در جهان از آن نام برده می‌شود، این نقاشی‌های دیواری میراث بی نظیری از مکتب بزرگ نقاشی آسیای میانه بود، هنری که محل تلاقی هنر بومی، هندی و ایرانی بود و ترکیب آنها تداعی کننده مکتب هلنیزم و شیوه هنری یونان باستان در باختر زمین بود. در اواخر دهه ۹۰ میلادی ادعای به آتش کشیدن کتابخانه پلخمری توسط اهالی محل، که بالغ بر ۵۰ هزار کتاب، مقاله، نسخ قدیمی و تاریخی را شامل می‌شد، تخریب بخش‌هایی از ساختمان موزیم که منجر به نابودی تعدادی نقاشی از قرن چهارم میلادی، ظروف سفالی و مجسمه‌های باستانی شد، تعطیلی گالری ملی افغانستان برای مدت طولانی و سپس بازگشایی آن در سال ۲۰۰۰ در حالی که هیچ اثری از نقاشی‌های فیگوراتیو و پرتره انسانی نبود، علاوه بر آن سرقت تعدادی نقاشی در سال ۱۳۷۳ از گالری ملی و ویرانی سایت‌های باستانی مهم گوشه‌ای از دشمنی کوردلانه طالبان را با فرهنگ و هنر نشان می‌دهد. البته فقط کابل در معرض از دست دادن آثار هنری و باستانی قرار نداشت، مقبره تاریخی عبدالرزاق، فرزند ابوسعید یکی از سلاطین تیموری به جا مانده از قرن شانزده میلادی در غزنی نیز در جنگ‌های مجاهدین و طالبان به شدت آسیب دید. این مقبره با شکوه در دهه ۶۰ میلادی توسط باستان شناسان ایتالیایی به عنوان موزیم هنرهای اسلامی بازگشایی شده بود و در تمامی دوران جنگ‌های داخلی در معرض تعرض و نابودی آثار باستانی متعلق به دوره اسلام و هنر پیش از اسلام قرار داشت. ارگ ۲۵۰۰ ساله فراه، یا قلعه فریدون که به نام ارگ اسکندر نیز شناخته می‌شود، در زمان جنگ‌های مجاهدین در سال ۱۹۸۰ تبدیل به انبار اسلحه و مهمات جنگی آنان شده بود و گفته می‌شود فضای داخلی آن هنوز مملو از مواد منفجره است. امروزه نیز این ارگ باستانی به حال خود رها شده است. ارگ فراه ایستگاه کوچکی در شبکه راه ابریشم بین ایران و هند بود که از دل آن منسوجات، ادویه جات و گنجینه‌های گران بهایی عبور می‌کردند.

در سال ۲۰۱۹ طالبان عزیز احمد پنجشیری، باستان شناس سرشناس کشور را در مسیر بغلان-قندوز ترور کردند، و قتل عبدالله عاطفی، نویسنده و تاریخ‌نگار در اگست سال ۲۰۲۱ نشان می‌دهد دید آنان نسبت به تاریخ و پیشینه فرهنگی کشور هرگز تغییر نکرده است. واقعیت امر این است که نه مجاهدین و نه طالبان، در زمان درگیری‌های مسلحانه و راکت پرانی‌هایشان ملاحظه اماکن و آثار باستانی را نکردند و طالبان حتا عامدانه از محافظت آثار فرهنگی و هنری پس از اسلام چشم پوشی می‌کردند.

در زمان جنگ و مخصوصاً در دوره حاکمیت طالبان بسیاری از اسناد مکتوب موزیم ملی از بین برده شد و باستان‌شناسان معتقدند که حتا به صورت تخمینی نمی‌توان حدس زد تعداد آثار باستانی کشف شده از سال‌های ۱۹۲۰ که باستان‌شناسان و مورخان هنر اجازه ورود به افغانستان را یافتند تا سال ۱۹۹۰ چقدر بوده و چه تعدادی واقعاً از بین رفته یا قاچاق شده‌اند. بسیاری از آثار باستانی قاچاق شده از افغانستان در موزیم‌های جهان نگه داری می‌شوند و تعدادی هنوز در گرو دلالان آثار باستانی قرار دارد. در ماه اپریل سال ۲۰۲۱، ۳۳ اثر باستانی قاچاق شده از یکی از دلالان نیویورکی کشف و ضبط شد و به سفارت افغانستان در آمریکا تحویل داده شد تا به موزیم ملی افغانستان انتقال یابد. موزیم هنر و صنایع دستی هامبورگ در سال ۲۰۱۹ یک قطعه سنگ مرمر با تزئینات و حروف اسلامی متلعق به قرن دوازده میلادی که از موزیم هنرهای اسلامی غزنی در سال ۱۹۷۰ دزدیده شده بود را به موزیم ملی افغانستان تحویل داد، این سنگ تزئین شده با نقوش هندسی که شیوه هنر اسلامی را نشان می‌دهد متعلق به یک مجموعه ۷۸ تکه‌ای بود که حاشیه تزئینی حیاط داخلی قصر سلطان مسعود سوم را در شهر غزنی آراسته بود. موزیم ملی بریتانیا نیز در ماه جولای سال ۲۰۱۹ وعده سپرد تا تندیس‌های بودای قاچاق شده در سال ۲۰۰۲ را به موزیم ملی افغانستان تحویل دهد.

با همه این اوصاف هنوز مشخص نیست چه تعداد اثر متعلق به افغانستان در سایر موزیم‌های جهان موجود است، چه تعدادی در اختیار قاچاقیان قرار دارد و چه تعداد اثر به تازگی کشف شده و به صورت تخمینی چه تعداد آثار کشف ناشده در سایت‌های باستانی موجود است. دولت‌های گذشته و وقت اگر چه به شیوه طالبان دشمنی آشکارا با فرهنگ و هنر از خود بروز ندادند، اما هرگز طرحی جدی برای حمایت از هنر، هنرمندان و حفاظت میراث‌های فرهنگی افغانستان نداشتند. در دو دهه گذشته دولت نه تنها امکانات کافی در اختیار موزیم و گالری ملی قرار نداد، بلکه حتی برای ساخت گالری‌های جدید در سطح شهرهای بزرگ هیچ بودجه‌ای در نظر نگرفت و اگر با شدت گرفتن جنگ بنیادها و مراکز فرهنگی خارجی مثل انستیتیوت (موسسه) گوته و مرکز فرهنگی فرانسه در کابل که محل تجمع هنرمندان و برپایی نمایشگاه‌ها است، تعطیل شود هنرمندان داخلی دیگر هیچ مکانی برای نمایش آثارشان نخواهند داشت.

# د ولایتونو پرله پسې سقوط، ورانۍ او اندېښنې؛

## وسله وال طالبان د سرپل، تخار او کندز ولایتونو د مرکزونو د نیولو ادعا کوي




د زرنج او شبرغان ښارونو له نیولو وروسته، طالبانو له تېرې شپې راهیسې د سرپل، تخار او کندز پر ښارونو پراخ ډوله بیز بریدونه پیل کړي او دا ډله ادعا کوي چې د درې واړو ولایتونو مرکزونه یې تر خپلې ولکې لاندې راوستي دي.

په ورته مهال افغان حکومت منې چې طالبان دغو ښارونو ته ننوتي شوي، خو په خبره یې، یادو ښارونو سقوط نه دی کړی او طالبان هلته د مېشتو امنیتي ځواکونو له سخت مقاومت سره مخ شوي دي.

د افغانستان د وسله‌والو ځواکونو ویاند اجمل عمر شینواری وایي: «طالبانو له تېرې شپې راهیسې پر سرپل، تخار، کندز بریدونه پیل کړل او اوس په دې ښارونو درنه جګړه روانه ده.»

خو د طالبانو د ډلې ویاند ذبیح‌الله مجاهد بیا پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي: «د سرپل، کندز او تخار ولایتونه مرکزونه یې نیولي او په دغو ښارونو کې یې د وسله‌والو پرمختګ روان دی.»

خو د ملي دفاع وزارت دا خبره نه مني او په یوه خپره کړې خبرپاڼه کې یې ویلي: «په کندز کې کمانډو ځواکونو د شهید عبدالرازق څلورلارې او د ملي راډیو ټلوېزیون ودانۍ له طالبانو بېرته نیولې او د ښار په نورو څنډو کې یې عملیات روان دي.»

په ورته مهال په ټولنیزو رسنیو کې هم په دغو ښارونو کې د جګړو یو شمېر بوږنوونکې ویډیوګانې خپرې شوې دي. په دغو ویډیوګانو کې ښکاري چې وسله وال طالبان د ښارونو په منځ کې له امنیتي ځواکونو سره جګړه کوي او دغه راز په کندز ښار دننه په یو شمېر هټیو کې اور لګېدلی او په نورو ښارونو کې هم د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې زړه بوږنوونکې ویډیوګانې خپرې شوې دي. په وېډیوګانو کې د خلکو له قوله چې دا اور او ملکي مرګ ژوبله د افغان ځواکونو او طالبانو ترمنځ د جګړې په پایله کې رامنځته شوې او ترڅنګ یې خلکو ته درانه مالي زیانونه هم اوښتي دي.

که څه هم تر اوسه په دغو ښارونو کې د روانې جګړې د مرګ‌ژوبلې په اړه دقیقې شمېرې نه‌شته، خو ملي دفاع وزارت وایي، په دغو جګړو کې یې طالبانو ته درنه مرګ ژوبله اړولې ده.

پر کندز، سرپل او تخار سربېره، وسله والو طالبانو پر کاپیسا، پنجشېر او بدخشان هم ډیله بریدونه کړي، خو حکومتي چارواکي وایي چې دا بریدونه یې په شا تمبولي او طالبانو ته یې درنه مرګ‌ژوبله اړولې ده.

بلخوا د طالبانو دغو بریدونو پراخ غبرګونونه هم راپارولي دي. په کابل کې د امریکا سفارت په یوه خبرپاڼه کې لیکلي، چې د افغانستان پر ښارونو د طالبانو بریدونه غندي.

په اعلامیه کې راغلي، د نیمروز په زرنج، د جوزجان په شبرغان او لښکرګاه د طالبانو بریدونه چې په زور ځانونه حاکمول غواړي، د منلو نه دي او دا کار د هغې ادعا سره ټکر کې دی چې طالبان وایي، د خبرو له لارې شخړه حلوي. له دې سره جوخت، د مشرانو جرګې لومړي مرستیال محمد علم ایزیدیار په هېواد کې د طالبانو له لوري روانو پراخو جګړو ته په اشارې ویلي، چې د واشنګټن له لوري په یوه وخت د حکومت او طالبانو په رسمیت پېژندنه د هېواد د اوسني کړکېچ لامل دی. نوموړي په کابل کې له افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو څخه د ملاتړ مراسمو ته په وینا، کې ویلي چې د واشنګټن له لوري له افغان حکومت سره د امنیتي تړون سربېره، دغه هېواد له طالبانو سره هم د سولې تړون وکړ او دغه ډله یې په رسمیت وپېژندله. نوموړي د خپلو خبرو پر دوام زیاته کړې چې د امریکا- طالبانو تړون د اوسني کړکېچ پیل و. ایزیدیار ټینګار کړی چې که طالبان په زور واک ته ورسېږي، هم نو معنا یې ټیکاو نه، بلکې د دغې ډلې پر وړاندې به مقاومت دوام پیدا کوي.

## د کتاب خبرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکتور فرېنکل**
ژباړن: **میراحمدیاد**




### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

زه د هغو بندیانو په اړه قضاوت نه کوم چې خپل ملګري به یې تر نورو غوره بلل او توپیر به یې کاوه. که یوه کس ته د مرګ او ژوند خبره زر مطرح کېدونکې وي او هغه کس خپلو ملګرو ته پر نورو امتیاز ورکوي، داسې به څوک څه ملامت کړي. هېڅوک تر هغې د دې قضاوت حق نه لري چې له ځانه یې دا پوښتنه نه وي کړې چې که دی د هغه کس پر ځای وای، همداسې به یې نه کول؟

له زندانه تر خلاصېدو کلونه وروسته چې خپل عادي ژوند ته ستون شوی وم، یوه ورځ راته یوه کس په مجله کې د هغو بندیانو انځورونه وښودل چې په خپلو کټونو کې ډله ډله پراته وو او راغلي کس ته یې هک پک کتل. هغه کس راته وویل: «ایا دغه حالت او دغه هک پک مخونه وېروونکي نه دي؟»

ما ترې وپوښتل: «ولې؟» پوښتنه مې ځکه وکړه چې رښتیا یې پر خبره پوه نه شوم. په دې وخت کې هغه تېر شوی ژوند بېرته راغی. د سهار پینځه بجې وې، بهر لا تیاره خپره وه. زه په ختینه کوټه کې په خپل لرګین کټ کې پروت وم. موږ اویا تنه وو، ناروغه وو او یو څو اونۍ بېګار کولو ته اړ نه وو. مزلونه مو هم نه کول. موږ به ټوله ورځ په یوه کونج کې پراته وو، فکرونه به مو کول او ډوډۍ ته به په تمه وو. ناروغو ته به یې ډوډۍ هم لږه ورکوله، لږه اوبلنه ښوروا به وه. خو له دې ټولو سره بیا هم ډېر خوشاله وو. په دومره بدو او وېروونکو حالاتو کې مو هم خوشاله ژوند کاوه. موږ به له یو بل سره جوخت پراته وو چې د بدن تودوخه مو ضایع نه شي او دومره لټ شوي وو چې بې ضرورته مو ګوته هم نه خوځوله. په دې وخت کې مو به د پهردارو شپېلي او د عسکرو چیغې اورېدې چې په میدان کې به سره راټولېدل. دروازه خلاصه وه او باد واوره کوټې ته رانږیسته. په دې وخت کې په واورو یو پوښل شوی بندي کوټې ته راننووت چې ځان لږ تود کړي، خو د بلاک مشر بېرته وایست. ځکه تر څو چې د ټولو بندیانو حاضري ختمه شوې نه وای، هېڅا کوټې ته د ننوتو حق نه درلود. زه هغه ملګري ته سخت خپه شوم، خو پر دې سخت خوشاله وم چې د هغه پر ځای نه وم، ناروغ وم او د ناروغو په بلاک کې پروت وم! په دې ځای کې دوې ورځې پاتې کېدل او ښایي ورپسې دوې نورې ورځې وخت بیخې ژوند ژغورونکی و.

دا ټولې کیسې مې په مجله کې له عکس لیدلو سره رایادې شوې. ما چې ورته دا کیسه وکړه، هغه کس پوه شو چې دا عکس راته ولې دومره ځورووونکی نه و. په دې عکس کې ښودل شوي خلک به دومره خپه هم نه وو.

د ناروغانو په بلاک کې یې په څلورمه شپه زه د شپې نوکریوال کړم. په دې وخت کې سرطبیب په منډه راغی او ما ته یې وویل چې په بل روغتون کې د محرقي ناروغانو د درملنې په برخه کې رضاکار شم. زما نورو ملګرو ته د دې خدمت وړاندیز بیخي شوی نه و، خو هغوی ما ته نصیحت کاوه او ما د هغوی د نصیحت اپوټه (برعکس) دا وړاندیز ومانه. زه پر دې پوهېدم چې د کاریګرو په ډله کې نور مړ کېدم، خو که په دې بله برخه کې مړ شوی هم وای، مرګ به مې یو ارزښت پیدا کړی وای. ما له ځان سره وویل چې که سبا هسې د بې ګټې مزدور په توګه مرم، تر هغې به دا ښه وي چې نن د یوه ډاکټر په توګه د خپلو ملګرو مرسته یا د مرستې یوه هڅه وکړم.

زما لپاره دا خبره قرباني نه، محاسبه شوې کار و. خو د تنظیف د برخې مامور پټ امر کړی و چې د زندان د محبس په برخه کې د دوو ګومارل شوو ډاکټرانو ساتنه دې وشي. موږ دومره ضعیفه شوي وو چې د دوو ډاکټرانو پر ځای ورته دوه مړي پاتې نه شي.

**دوام لري...**

# فولکس واګن

حشمت الله نوري

فولکس واګن د موټر جوړونې الماني شرکت دی. دا د فولکس واګن ډلې تر ټولو مهم برنډ دی. نور شرکتونه یا څانګې هم لري، خو موږ یوازې په فولکس واګن باندې خبرې کوو. دا ډله په اروپا کې د موټر جوړونې تر ټولوستره کمپنۍ ده او له جنرال موټورز وروسته چې امریکایي کمپنۍ ده، دا کمپنۍ د نړۍ دویمه کمپنۍ بلل کېږي.

دغه کمپنۍ په ۱۹۳۰ کال کې د آلمان د هغه وخت د نازي رهبر اډولف هټلر په غوښتنه جوړه شوه. هغه له فردیناند پورشه وغوښتل چې داسې موټر جوړ کړي چې د آلمان ډېری وګړي یې د اخیستلو وس ولري. پر همدې بنسټ یو شرکت جوړ شو، نوم یې فولکس واګن ورباندې کېښود، چې په الماني ژبه کې د خلکو د موټر مانا ورکوي.

نن په نړۍ د لسو تر ټولو ډېرو پلورل شوو موټرونو په ډله کې یوازې درې یې په همدې فولکس واګن پورې اړه لري. دغه شرکت سره له دې چې پر مختللي موټرونه جوړوي، د موټرونو په برخه کې یې په څېړنه او تحقیق هم ډېره پانګونه کړې ده. دوی د موټر جوړولو تر مخ د هغه په اړه پوره پوره څېړنه کوي، دوی کوښښ کوي چې مهمې پرزې او تر ټولو ګټور او مؤثر شیان له تحقیق او څېړنې وروسته خپلو مشتریانو ته وړاندې کړي.

فولکس واګن په ۱۹۳۷ کال کې د هټلر په امر جوړ او د آلمان د نازي حزب کارکوونکو کار پکې پیل کړ. د دې کمپنۍ د کار تر پیل مخکې په المان کې ډېری موټرونه قېمته او لوکس وو، هر چا یې د اخیستلو توان نه درلود، نو هټلر همداسې یوه کمپنۍ غوښته چې د موټرونو لوړې بیې راټیټې کړي څو په المان کې ډېری خلک وکولی شي د موټر خاوندان وي. فولکس واګن د همدې لپاره جوړ شو. خو وروسته ځینو کمپنیو د دې لپاره چې خپل بازار یې په خطر کې ولید، د فولکس واګن پر وړاندې ارزان بیه موټرونه تولید کړل. له دې ډلې یو هم مارسډز بنز آلمانی شرکت و چې مارسډز ۱۷۰ ایچ یې د همدې موخې لپاره جوړ کړ، څو د دې کمپنۍ کارونه له ناکامۍ سره مخ کړي. خو مارسډز بنز کمپنۍ له خپل دغه کاره ښه پایله وا نه خیسته.

په لومړیو کې خلکو داسې فکر نه کاوه چې نازیان دې د دې کمپنۍ ملاتړي وي، خو یو وخت هټلر له دې رازه پرده پورته کړه او ویې ویل له فولکس واګن سره ځکه تاسې سیالي نه شی کولی چې ملاتړ یې نازي حزب دی. فولکس واګن د دې موټر طرحه داسې جوړه کړې وه چې باید دوه له عمره پاخه کسان او درې ماشومان پکې ځای شي. قیمت یې هم د هټلر له لوري وټاکل شو، د یوه موټر بیه ۳۹۶ ډالره وه. البته په هغه وخت کې ۳۹۶ ډالره هم کمې پیسې نه وې، خو په دې بیه د المان ډېری وګړو کولی شوی د موټر څښتنان وي. ځکه په هغه وخت کې په همدې بیه خلکو له مارسډز کمپنۍ موټرسایلکونه اخیستل، نو خلکو دا ښه وګڼله چې د مارسډز د موټرسایکل پر ځای ولې د فولکس واګن په موټر کې سپاره نه شي.

په ۱۹۳۶ کال دوی خپل لومړنی موټر جوړ کړ، خلکو یو کال انتظار و ایست، په ۱۹۳۷ کال کې یې ننداریې ته وړاندې کړ، په څټ کې یې ماشین درلود، کوچنی موټر و او لکه څنګه یې چې پلان ورته جوړ کړی و همغسې کوچنی د دوو لویانو او دریو کوچنیانو لپاره طراحي شوی و.



کله چې لومړۍ نړیواله جګړه وشوه، دغه کمپنۍ هم تباه شوه، خو ډېر څه یې د یوه بریتانوي جنرال په برکت تر لاسه کړل. دغه جنرال ایوان هیرست نومېدو، کله چې امریکایي سرتیرو پر دغه کمپنۍ برید وکړ، ډېر شیان یې له خاورو سره خاورې کړل، دوی غوښتل چې دغه فابریکه نور یو زړو ګدام شي، خو ایوان جنرال یې مخه ونیوله او ویې ویل چې دا یو ارزښت دی او د ساتلو لپاره یې سر ورکوي. وروسته له ډېرو خبرو اترو په دې بریالی شو چې نور پوځې چارواکي هم دې سلا ته ورسوي، څو دغه فابریکه وساتي او له سره یې جوړه کړي. همدا چې جوړه شوه پوهېږی د بریتانیا حکومت د ۲۰ زرو موټرو فرمایش ورکړ.

په ۱۹۴۸ کال کې بریتانوي پوځیانو هغه بېرته المان ته ورکړه. په هغه وخت کې هنریش نوردهوف د دې فابریکې رییس وټاکل شو. هغه چې د یوه بانکدار زوی و، مخکې یې هم د موټر جوړولو په کمپنیو کې کار کړی و، له امریکایي کمپنیو یې لیدنې کړې وې او په دې پوه و چې په دغو هېوادونو کې د موټرونو تخنیک څنګه دی. هغه د موټرونو د صادراتو له برخې سره هم بلد و، په ۱۹۴۸ کال کې یې د خپلو موټرونو څلورمه حصه له آلمانه بهر هېوادونو ته صادره کړه. هغه دوه موډله موټرونه امریکا ته هم ولېږل او په هغه وخت کې یې میلیونونه ډالر چې بې ساري پیسې وې، وګټلې.

فردیناند پورشه چې لومړی یې دغه کمپنۍ جوړه کړې وه، هغه وخت د سلاکار په توګه دلته کار کاوه. وروسته وروسته په دې بریالی شو چې ځان ته بېله کمپنۍ د سپورتي موټرونو د تولید لپاره جوړه کړي، هغه د دې کمپنۍ نوم پورشه اېښی و.

فولکس واګن کمپنۍ وروسته دا ښه وګڼله چې امریکا ته ډېر موټرونه صادر کړي، نو د همدې لپاره یې په ۱۹۷۹ کال کې ۳۳۰ ډوله موټرونه دغه هېواد ته صادر کړل. دغې کمپنۍ بهرنیو هېوادونو ته د موټرونو د لېږد کار په ۱۹۵۰ کال پیل کړ. په هغه وخت کې یې استرالیا، فرانسې او امریکا ته موټرونه صادرول او ښې ګټې یې کولې.

په ۱۹۵۴ کال کې یې یو قوي ماشین په خپلو موټرونو کې وکاراوه، دغه ماشین ۱۱۹۲ سي سي و، له میکانیکي اړخه قوي او د سوداګرۍ لپاره تر ټولو ښه انتخاب و. وروسته یې په ۱۹۶۱ کال کې د بېتل موډل جوړ کړ، د هغه ۱۴۹۳ سي سي ماشین و، په یوه کال کې یې ۱۵۰۰ موټرونه تولید کړل، په ۱۹۶۱ کال کې یې د ټولو موټرونو د تولید شمېره تر یو میلیون واوښته. په همدې ۱۹۶۰ تر ۱۹۷۰ کال کې یې نور ماډلونه هم جوړ کړل، لکه واګن ټي آی او فولکس واګن سالن چې ډېر مینه‌وال یې لرل.

د ۱۹۷۹ کال په جون میاشت کې فولکس واګن یو موټر جوړ کړ، دغه موټر ګلف و، همدا چې دا موټر فولکس واګن جوړ کړ، نو ورسره سم یې اعلان وکړ چې تر دې دمه یې ۳۵ میلیونه موټرونه جوړ کړي دي او همدا موټر یې هغه موټر دی چې دغه شمېره یې پوره کړه. وروسته یې خپلې څانګې پراخې کړې او د ځینو موټرونو د تولید صلاحیت یې خپلو ځینو نور کمپنیو ته ورکړ. دوی به هلته پر کارپوه انجنیران ګومارل او له دې لارې به یې کوښښ کاوه چې د موټرونو کیفیت یې ښه، خام مواد ورته ارزانه پرېوځي او ګټه یې ډېره وي.

له ۱۹۹۰ کال تر ۲۰۰۰ کال پورې د فولکس واګن د موټرونو تولید هم پراخ شو. په دې وخت کې یې د فولکس واګن ګلپ موټرونو له لړۍ درېیم نسل هم معرفي کړ. د دغه نسل نوم یې ګلف ام کې ۳ و او همغه کال په اروپا کې د کال غوره موټر معرفي شو. په ۱۹۹۷ کال کې یې فولکس واګن ګلف ام که ۴ هم معرفي کړ.

دغه کمپنۍ اوس هم پراخ فعالیتونه لري. دې نن وخت ښکلي او عصري موټرونه جوړوي. کارځایونه یې په روسیه، براتیسلاوا اسلواکي او نورو ځایونو کې دي. په پرتګال کې یې هم یوه کمپنۍ شته چې فولکس واګن آی او اېس جوړوي. د فولکس واګن شپږم نسل هم په ۲۰۰۸ کال کې د ګلف ام کا ٦ په نامه بازار ته وړاندې شو.

دغه کمپنۍ ډېر کار کوي، د راپورونو له مخې، په تېر میلادي کال کې یې۷ میلیونه موټرونه تولید کړي، چې په دې توګه یې ۱۰۳ میلیارده ډالر ګټلي وو، چې خالصه ګټه یې ۳،٦ میلیارده ډالره کېږي. فولکس واګن اوس د نړۍ د موټر جوړولو په دریو غوره کمپنیو کې راځي. هغه د اروپا په بازارونو کې تر ټولو ډېر سهام لري. هغه په نړۍ کې په ۱۰ غوره شرکتونو کې هم راځي. دغه کمپنۍ ۳۰۰ زره کارکوونکي لري. دغه کمپنۍ په کال کې د ۷،٦ میلیونو موټرونو په پلور تر اوسه ریکارډ لري، خو دوی غواړي خپل پلور په کال کې لسو میلیونو موټرونو ته ورسوي، چې که دوی همداسې چټک پر مخ روان وي، ښایي یوه ورځ دا هم راشي چې فولکس واګن لس میلیونه موټر پلورلي وي. دغه کمپنۍ په ۱۵۳ هېوادونو کې فعالیت کوي. دغه کمپنۍ یوازې نه ده؛ بلکې تر همدې نامه لاندې څو نورې کمپنۍ هم کار کوي. دوی وایي، زموږ محصولاتو باید له نورو سره کاملاً توپیر ولري او همدار راز باید تر نورو غوره وي. سره له دې چې دغه کمپنۍ په دویمه نړیواله جګړه کې په پوره توګه له منځه ولاړه، خو بیا پر خپلو پښو ودرېده او د موټر په نړۍ کې یې ۸۴ کاله حکومت وکړ. د بریا بل راز یې ښه مدیریت او خلاق کارکوونکي دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۱,۱۰ |
| € | ۹۴,۵۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۴۵ |
| £ | ۱۱۱,۳۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیاني

# له ماتې خوړلو وروسته څلور حللارې فولکس واګن

ژباړه: صفي الله پادشاه

ماتې خوړل د هر شخص لپاره یوه تر ټولو لویه وېره ګڼل کېږي. موږ تل په بشپړه توګه هڅې کوو او زحمت باسو، څو په خپلو کارونو کې بریالي شو. خو د تل لپاره مو هم بریا نه په برخه کېږي او ډېر کله له ماتې سره مخ کېږو. پخوانیو ویلي دي، لوبه ګټل او بایلل لري؛ له همدې امله ځینې وخت بریالي کېدل او ځینې وخت ماتې خوړل هم د ژوند د لوبې دوه اړخونه دي.

فرض کړئ ماتې مو وخوړه، څه باید وکړو؟ له هرڅه لاس واخلو؟ نه! بلکې پر ځای یې باید د خپلو کړنو لپاره پلان ولرو، څو د ماتې خوړلو برخه ترې په بشپړه توګه له منځه یوسو.

د ماتې ضد ځواک تر لاسه کولو او له ماتې وروسته حللارو په هکله د پوهېدو لپاره دغه مقاله تر پایله ولولئ.

ایا په کړنو کې مو وروستۍ ماتې د دې لامل شوې څو نور له هر څه لاس واخلئ؟ ماتې هغه وخت ډېره له درده ډکېږي چې تاسو د یوه کار لپاره په بشپړه توګه هڅې کړې وي، زحمت مو ایستلی وي او انرژي مو مصرف کړې وي، خو بیا هم بریا ته نه وی رسېدلي او ماتې مو خوړلې وي.

لویې ماتې د انسان روحیه له منځه وړي، راتلونکي ته یې د هیلهمندۍ دې له لاسه ورکولو لامل کېږي، شخص ته ژور خپګان له ځان سره راوړي او د تل لپاره ستاسو ذهن بوختوي. همدا د ماتې خوړلو اغېزې دي چې د دې لامل کېږي څو نور تاسو ونه غواړی چې کوم نوي څه و ازمویئ. په ماتې خوړلو سره په حقیقت کې د بایللو وېره ستاسو پر بدن وزرې غوړوي او د بیا ځلې ازمویلو او خطر منلو جرئت در څخه اخلي.

خو؛ څو شېبې فکر وکړئ، ایا دا باید ستاسو د برخلیک پای وي؟ ایا نور هر څه پای ته رسېدلي دي؟ ایا ستاسو د ژوند د کیسې پای همدا دی؟ نه! پاڅېږئ او د راتلونکي پر لور حرکت وکړئ. پرته له دې چې د پایلې او راتلونکو پېښو په هکله فکر وکړی. تاسو باید یو ځل بیا خپل ځان جوړ کړئ، نوې انګېزه رامنځته کړئ او په مثبت فکر سره د یوې نوې سیالۍ او مبارزې پر لور ګام واخلئ.

وینسټن چرچېل وایي: ماتې خوړل وژونکي نه دي او بریالي کېدل هم د لارې پای نه دی. هره پېښه او فعالیت د دوام لپاره زموږ مېړانې او نه تسلیمېدو ته اړتیا لري.

اوس د دې وخت دی څو له هغو حللارو سره اشنا شئ چې هر کله مو ماتې وخوړه، بیا بیا یې له ځان سره تکرار کړئ، ځکه له دغو افکارو پرته ستاسو ماتې، ستاسو په ذهن کې پر وژونکو ذهرو بدلېږي.

**لومړۍ حللاره: ماتې ومنئ او تېښته مه ترې کوئ**

لومړنی کار چې له یوې سختې ماتې وروسته یې باید د خپل ذهن د بیا موندنې لپاره تر سره کړی، دا دی چې ماتې ومنئ او تېښته ترې ونه کړئ. د خپلې ماتې لپاره پلمې مه جوړوئ او پړه یې پر خپلو شاوخوا خلکو مه اچوئ. ماتې ته په ورین تندي غېږه ورکړئ. پر دې پوه شئ چې بریا ته غځېدلې لار، یوازې د سختو ماتو له زړه څخه تېرېږي.

آیا د فوټبال داسې ټیم مو لیدلی چې له ماتې پرته یې اتلولي ګټلې وي؟ کوم شخص له ماتې پرته بریالی شوی دی؟ کوم شرکت په خپلو فعالیتونو کې له تېروتنې خالي دی؟ پر دې پوه شئ چې دا ستاسو وروستۍ ماتې نه ده او خپلې موخې ته د رسېدو په لاره کې به بیا بیا له ماتې سره مخ کېږی؛ خو هغه څه چې د دغو ماتو تر شا نغښتي دي، یو لوی بریالیتوب دی چې په پایله کې د دغو ماتو اغېزې کم رنګې کوي او تاسو ته رښتینې خوښي در ببښي.

د هر بریالي شخص تر شا زرګونه ماتې شته.

**دویمه حللاره: بل چانس هم شته**

ماتې باید ستاسو د هیلو پای نه وي. که مو ماتې وخوړه، له خپله ځایه پاڅېږئ، د هنداري مخ ته ودرېږئ او ووایاست: دا زما د کار پای نه دی، زما د هیلو پای هغه وخت دی چې مړ کېږم. هر وخت یو نوی چانس شته. که چېرې تاسو کومه سیالي بایللې وي، کومې دندې ته مو لاره نه وي موندلې، په کانکور ازموینه کې نه وی بریالي شوی او یا مو خپل کاروبار له لاسه ورکړی وي، باید پوه شئ چې یو ځل بیا هم د ازمویلو فرصت شته.

پر دې پوه شئ چې ژوند دومره اوږد او له لوړو ژورو ډک دی چې تاسو ته د بیا بیا ازمویلو فرصت درکوي. په حقیقت کې دا تاسو یاست چې په منفي فکرونو سره له خپل ځانه د بیا ځلې بریالي کېدو چانس اخلی. خپلې شاوخوا ته وګورئ، له دوو څخه ډېرې لارې نشته، یوه یې د ماتې منل او بله یې یو ځل بیا هڅه کول دي. پر دې پوه شئ، یوه ټولنه هغه شخص ستایي چې سل ځله هڅه وکړي خو بریالی نشي، خو هغه شخص چې د ماتې له وېرې له خاموشۍ څخه په یوه ډک ځای کې پناه اخلي، نه یوازې دا چې د ټولنې لخوا نه ستایل کېږي، بلکې سپکاوی هم ورته کوي. دا له یاده مه باسئ چې ژوند یو ځل نه، بلکې هر سهار له سره پیلېږي.

**درېیمه حللاره: په زده کړې سره مو د کمزورتیا ټکي له منځه یوسئ**

کله چې تاسو ماتې خوری، په دې مانا ده چې د کاره یوه برخه مو په سمه توګه نه ده تر سره کړې. په کار کې دغه تېروتنې، د موضوع په هکله له بشپړې پوهې نه درلودلو سرچینه اخلي. تېروتنې تاسو ته دا موکه درکوي څو خپل د کمزورتیا ټکي پیدا کړی او د له منځه وړلو لپاره یې خپله پوهه او زده کړه لا ډېره پیاوړې کړی.

هره ماتې ستاسو د کمزورتیا څو ټکي چې ښایي تر اوسه نه وی ترې خبر، را برسېره کوي. البرت انشټین وایي: هغه چا چې هېڅکله یې تېروتنه نه ده کړې، په دې مانا ده چې هېڅ نوی کار یې نه دی تر سره کړی. دغه خبره د ژوند په ټولو اړخونو کې صدق کوي. د بېلګې په توګه، که چېرې تاسو د ببړنیو خوړو یو پلورنځی لری چې له ماتې سره مخ شوی دی، په دې مانا ده چې تاسو د خوړو د پخولو، د پېرودونکو د جذبولو او غوره خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې کافي اندازه پوهه او تجربه نه لری. په حقیقت کې مطالعه، زده کړه او له ورځنیو بدلونونو خبر اوسېدل، ستاسو د کاروبار د پر ښنو درولو لپاره یو حتمي امر دی. نو ځکه خو زموږ خوږ پیغمبر فرمایي چې له زانګو تر قبره علم زده کړئ.

**څلورمه حللاره: هېڅ وخت د جامع‌الکمالات او بشپړتیا تمه مه لرئ**

دا چې موږ په خپل ټول وجود سره موخو ته د رسېدو په لاره کې هڅې کوو، یوه په زړه پورې خبره ده. خو خپلو هیلو او موخو ته د رسېدو په لاره کې هغه زحمت چې وباسو یې، باید خپل ارزښت له لاسه ور نه کړي. څېړنو ښودلې چې ځان ته د جامع‌الکمالات او بشپړتیا په سترګه کتل او نیمګړتیاوې نه منل، د اندېښنو او ژور خپګان لامل کېږي.

تل دا مه وایاست چې په کانکور کې مې باید دومره نمرې اخیستې وای، زه باید په سیالۍ کې په لومړۍ درجه بریالی شوی وای، ما باید سږ کال دومره محصولات پلورلي وای، ما باید فلانۍ تېروتنه هېڅ نه وای کړې.... دغه څه د دې لامل کېږي څو تاسو په یوه فکري دام کې را ګیر شی او خپل کوچني بریالیتوبونه له پامه وغورځوی.


پام مو وي چې بریا ته د رسېدو لار تل له نیمګړتیاوو او لوړو ژورو ډکه ده. د تل لپاره هم دا مه وایاست چې هر څه باید زما په خوښه او په پوره تکامل او له نیمګړتیا پرته تر سره شي. د قناعت نه کولو دغه حس نه یوازې دا چې ستاسو درد نه دوا کوي، بلکې تاسو لا ډېر ناهیلي کوي. ځینې وخت موخې ته تر رسېدو ډېر هغه مسیر مهم وي چې خپلې موخې ته مو رسوي. نیمګړتیاوې ومنئ، پر تېروتنو باور ولرئ، هېڅکله نه شی کولای چې له زحمت، هڅو او خولو تویولو پرته موخې ته ورسېږی. که مو پر لږو قناعت ونه کړ، که مو نیمګړتیاوې او تېروتنې ونه منلې او که مو تل د کمال او بشپړتیا تمه درلوده، پوه شئ چې هېڅکله به موخې ته ونه رسېږی. ځکه د نړۍ تر ټولو نامتو، بریالي او شتمن کسان په یو ځل سره دغو موقفونو ته نه دي رسېدلي، بلکې هغوی پر لږو قناعت کړی، په یو ځل یې د تکامل تمه نه ده کړې او پر تېروتنو او نیمګړتیاوو یې باور کړی دی.

توماس اډیسون د خپلې کارخونې د سوځېدو په هکله وایي: په بدو پېښو کې لوی او نه هېرېدونکی ارزښت پروت دی. زموږ د کاري ټیم ټولې تېروتنې په اور کې وسوځېدې او د خدای ډېر شکر چې کولای شو له سره پیل وکړو.

له ماتې زده کړه وکړئ او له دغې زده کړې څخه ببرته د بریالي کېدو لپاره ګټه واخلئ. همدا د بریالي کېدو لوی راز دی.

# په امریکا کې د کرونا ډېرېدونکې پېښې؛

## تازه شمېرې: په امریکا کې د کرونا مثبتې پېښې له ۳٦ میلیونه او ۵۱۹ زرو کسانو اوښتي



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۲۰۳ میلیونه او ۲۱۱ زره او ٦۵۰ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله څلور میلیونه او ۳۰۴ زره او ۷۵۷ کسان مړه شوي او له ۱۸۲ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳٦ میلیونه او ۵۱۹ زره او ۸۰۱ ته رسېدلي او ٦۳۲ زره او ۹۹۵ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۳۱ میلیونه او ۹۴۴ زره او ۷۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۲۰ میلیونه او ۱۵۱ زره او ۷۷۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د شپږ میلیونه او ۴۴۷ زره او ۷۵۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د شپږ میلیونه او ۲۸۴ زره او ۷۰۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. برېټانیا، ترکیه، ارجنټاین، کولمبیا او هسپانیا بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي. په ورته مهال امریکا تر لنډمهاله ځنډ وروسته یو ځل بیا هره ورځ په اوسط ډول ۱۰۰ زره د کرونا مثبتې پېښې ثبتوي. په دغه هېواد کې د کرونا د مثبتو پېښو په دومره شمېر سره وضعیت ببرته پخواني حالت ته تللی دی. د امریکا د ناروغیو د مخنیوي او کنټرول مرکزونو رییسې روشیل والنسکي سي‌اېن‌اېن ټلوېزیون ته ویلي، که خلک واکسین نه شي، ښایي د ورځې مثبتې پېښې څو لکو ته ورسېږي، هماغسې لکه د روان کال په جنورۍ میاشت کې چې پېښې اوج ته رسېدلې وې. روغتیایي چارواکي اندېښنه لري چې دا ناروغي او مړینې به تر هغو روانې وي، چې نور امریکایان هم له شته واکسین استفاده ونه‌کړي. د یادونې ده چې تر اوسه د امریکا ۵۰ سلنه اوسېدونکي په بشپړه توګه واکسین شوي، خو تر ۷۰ سلنه زیاتو کسانو یې لږترلږه یو ډوز واکسین ترلاسه کړی دی.

امریکا نهه میاشتې وخت واخیست چې د ورځې په اوسط ډول د مثبتو پېښو شمېر ۱۰۰ زره ته راکم کړي چې دا شمېر په جنورۍ میاشت کې په اوسط ډول دوه‌نیم لکه و.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

**چاپخونه:** وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۱۸مه | د ۲۰۲۱ د اګسټ ۹مه | ۷۵۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۵ | ۴۱ | ۳۹ | ۴۰ | ۳۱ |
| ۱۹ | ۲۳ | ۲۵ | ۲۷ | ۲۷ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۵ | لمر ختل ۰۵:۰۹ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۴:۴۹ | ماښام ۰۶:۴۸ | ماخوستن ۰۸:۲۲

## نړۍ




## سعودي: هغه کسان چې د کرونا ضد واکسین یې کړی وي، د عمرې حج لپاره راتلی شي



د سعودي عربستان حکومت وایي، هغه بهرنیان چې د کرونا ضد واکسین یې کړی وي، کولای شي چې د عمرې د حج لپاره دغه هېواد ته سفرونه وکړي. د سعودي عربستان اژانس راپور ورکړی، چې حکومت به سر له ننه د نورو هېوادونو څخه واکسین شویو مسلمانانو ته اجازه ورکوي چې عمره وکړي.


دا په داسې حال کې ده چې سعودي عربستان له کرونا ویروس سره د مبارزې او د دغه ویروس د مخنیوي لپاره شاوخوا ۱۸ میاشتې له بهرنیو هېوادونو څخه پروازونه بند کړي وو. د راپورونه پر اساس، دغه هېواد به د فرضي او عمرې حجونو له لارې د کال ۱۲ میلیارد ډالر عواید ترلاسه کول. سعودي عربستان سږکال ۶۰ زرو سعودي مېشتو ته د فرضي حج اجازه ورکړه. د سعودي اژانس د حج د چارو وزارت د مرستیال عبدالفتاح سلیمان له خولې لیکلي، هغو خلکو چې د کرونا ضد فایزر، بایوانټېک، استرازینیکا، موډیرنا او جانسن او جانسن واکسینونه کړي وي، د عمرې حج کولای شي. د هغه په خبره، د اړتیا په صورت کې به شکمن کسان کرنتین کېږي. د سعودي حکومت وایي اوس پر دې باندې کار کوي چې له کومو هېوادونو څخه څومره کسانو ته اجازه ورکړل شي. په سعودي کې خلکو ته ویل شوي چې د حکومتي او شخصي ودانیو، تعلیمي ادارو او ورزشي میدانونو ته په ننوتلو سره باید ماسکونه وتړي.

## اروپايي ټولنه: ایران د اټومي تړون په اړه د ځنډېدلو خبرو بېرته پیل ته چمتو دی

د اروپايي ټولنې یو جګپوړی چارواکی وایي، ایران چمتو دی چې د دغه هېواد د اټومي تړون په اړه ځنډېدلې خبرې د سپټمبر میاشتې په لومړیو کې بېرته پیل کړي.

فرانس پرېس او ډي‌پي‌اې اژانسونو په جلا راپورونو کې د اروپايي ټولنې د یوه جګپوړي چارواکي له قوله چې د خپل نوم نه ښودلو په شرطیې څرګندونې کړې، ویلي چې ایراني استازو په وروستیو ورځو کې ورته دا ډاډ ورکړی چې خبرې به په ویانا کې بېرته پیل شي. د اروپايي ټولنې دغه چارواکي ویلي چې د ایران د اټومي پروګرام په اړه د اروپايي ټولنې مرکچي اینریکې مورا تېره اونۍ په تهران کې د ایران د نوي ولسمشر ابراهیم ریيسي د لوړې په مراسمو کې ګډون کړی و او د ایران د مرکچي پلاوي له مشر حسین امیر عبدالهیان سره یې په ځینو مواردو خبرې هم کړې دي. د دغه چارواکي په وینا، ټاکل شوې چې امیر عبدالهیان به د ریيسي په کابینه کې د بهرنیو چارو د وزیر دنده مخ ته وړي، خو تر اوسه پورې دا خبره رسمي نه ده اعلان شوې. د یادونې ده چې واک ته د ولسمشر بایډن په راتګ سره نوموړي وویل، که ایران خپلې ژمنې عملي کړي، دوی چمتو دي چې د ۲۰۱۵ز کال شوي اټومي تړون ته بېرته ور وګرځي. د امریکا مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ امریکا له دغه تړونه ایستلې وه.

## ایزدیار: امریکا عامل به‌میان آمدن بحران کنونی در افغانستان است



محمدعلم ایزدیار، معاون نخست مشرانو جرگه بدین باور است که واشنگتن با به رسمیت شناختن هم زمان طالبان و حکومت در افغانستان، باعث به‌میان آمدن بحران کنونی در کشور شده است.

آقای ایزدیار که در مراسم پشتیبانی از نیروهای امنیتی و دفاعی سخن می‌زد، با اشاره به عمل کرد طالبان از امضای پیمان امنیتی میان واشنگتن و کابل و نیز امضای موافقت نامه صلح میان امریکا و طالبان انتقاد کرد.


او در این باره بیان داشت: «حتا اگر طالبان به زور افغانستان را اشغال نظامی بکنند، معنایش حاکمیت نیست! معنایش آوردن ثبات نیست! جنگ ادامه پیدا می کند، مقاومت ادامه پیدا می کند.»

آقای ایزدیار افزود: «یک طرف با حکومت افغانستان پیمان امنیتی امضا کردند، از طرف دیگر معاهده‌یی را با طالبان امضا کردند و دو جانب را در افغانستان به رسمیت شناختند. همان آغاز بحران جدید در افغانستان بود. آغاز افزایش بحران در افغانستان بود.» شرکت کننده‌گان دیگر این مراسم، برگشت نماینده‌گان حکومت و طالبان را به مذاکرات صلح، از راه‌های اصلی نجات کشور از بحران می‌دانند.

شالیزی دیدار، رئیس شورای بزرگ مردم کابل تصریح کرد: «قناعتش بده؛ بخواهش، تفاهم کن! گپ بزن! راه حل را پیدا کنیم، افغانستان را نجات بدهیم.» احمد حسین، فعال جامعه مدنی نیز افزود: «این کشور متعلق به تمام اقوام افغانستان است؛ اگر مفادی بیاید، اگر ضرری برسد، ضررش به همه ما می‌رسد.»

## ژوند


## د تازه انځرو روغتیايي ګټې!



هغه کسان چې له خپل چاغښت څخه په تنګ وي، د ورځې دې څلور یا پنځه انځر وخوري او دغه اندازه د بدن اړینه کالوري پوره کوي. انځر په خپل جوړښت کې پروټین، منرالونه، شکر، کلسیم او فاسفورس لري. په دواړو ډوله انځرو یانې تازه او وچو کې ویټامین اې او سي په پوره کچه موجود دي. دغه راز ویټامین بي او ډي هم په کمه اندازه لري. نو د همدې توکو په نظر کې نیولو سره ویلی شو، چې انځر یو له ګټورو غذايي درملو څخه دي. د فولادو، کلسیم او فاسفورسو په شتون سره د انځرو استعمال د هډوکو د قوي کېدو سبب کېږي. روغتیايي کارپوهان وایي، چې یو انځر د انسان بدن ته د اړتیا وړ دوه سلنه فولاد پوره کوي. په انځرو کې ځانګړې کالوري هم موندل کېږي، نو هغه کسان چې خپل وزن کموي، انځر دې ضرور وخوري، ځکه چې په یو انځر کې یوازې ۴۷ کالوري انرژي وي. د وینې فشار لرونکي خلک چې په بدن کې یې د سوډیم او پوټاشیم کچه برابره نه وي، د انځرو استعمال یې په برابر ساتلو کې ډېر ګټور تمامېدلی شي.

## انر خپل نوی ارزان بیه موبایل معرفي کړ

انر کمپنۍ خپل د پلې۵ ټي پرو لړۍ نوی ځیرک موبایل معرفي کړ. دغه ارزان بیه ځیرک موبایل کې ٦،٦ انچه ایل سي ډي ډوله مخ‌پاڼه ورکړل شوې. دغه ځیرک موبایل کې د مېډیاټېک کمپنۍ هېلیو جي۸۰ ډوله پروسېسر ورکړل شوی، چې له ۴جي ایل ټي اي څخه د ملاتړ وړتیا هم لري. پلې۵ ټي پرو نومی دغه ځیرک موبایل به تر ټولو وړاندې چین کې خرڅلاو ته وړاندې شي او ۸ ګیګابایټ رم او ۱۲۸ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې به ولري. دغه ځیرک موبایل کې ۴۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې چې له ۲۲،۵ واټ چټک چارج څخه ملاتړ کوي او یوازې ۳۰ دقیقو کې ۵۳٪ چارجېږي. شاتنۍ برخه کې دوې کامرې لري



چې ۶۴ مېګاپکسله اصلي او ۲ مېګاپکسله ډېپت سېنسر پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې ۱۶ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. د دغه ځیرک موبایل بیه ۱۴۹۹ چینايي یوان (تقریباً ۱۸۵۰۰ افغانۍ) ټاکل شوې ده.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کېږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank